# دغه جملي مو پخپلو اولادو باندي زده کړي

دغه جملي مو پخپلو اولادو باندي زده کړي او په باربار ځيني وپوښتئ چي هم عقيده وي اوهم سيرة سوالونه پکښني دي.

۱ سوال : د چا بنده يي ؟ جواب : د الله ﷻ بنده يم.

۲ سوال : د چا اُمتي يی ؟ جواب : د حضرت محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اُمتي يم.

۳ سوال : د چا په مذهب يی ؟ جواب : د امام ابوحنيفه ( رحمت الله عليه )

۴ سوال : حضرت محمد ﷺ څو ياران درلودل ؟ ۴

۱ حضرت ابوبکر صديق ( رض الله عنه )

۲ حضرت عمر فاروق ( رض الله عنه )

۳ حضرت عثمان غنی ( رض الله عنه )

۴ حضرت علی ( رض الله عنه )

۵ سوال : څو مذهبونه دي ؟ ۴

۱ د امام ابوحنيفه ( رحمت الله عليه ) مذهب.

۲ د امام شافعی ( رحمت الله عليه ) مذهب.

۳ د امام مالک ( رحمت الله عليه ) مذهب.

۴ د امام احمد بن حنبل ( رحمت الله عليه ) مذهب.

نوټ : لوړ ترين په مذاهبوکي د امام ابوحنيفه ( رحمت الله عليه ) مذهب دي.

۶ سوال : ايمان څه شي دي ؟ جواب : ايمان په لغت کي تصديق او باور کولو ته ويل کيږي . او په اصطلاح کي د الله ﷻ او د هغه د حبيب ﷺ ټول احکام په ژبه بيانول او په زړه سره تصديق کول او عملي کول دي.

۷ سوال : ايمان د څه شي په واسطهٔ سره قوي کيږي ؟ جواب : ايمان د نيکو اعمالو کولو په واسطه قوي کيږي.

۸ سوال : اسلام څه شي دي ؟ جواب : اسلام عبارت دي د ځان د تسليمولو او د الهي احکامو د پيروي کولو څخه.

گلزار

## دغه جملي مو پخپلو اولادو باندي زده کړي

۹ سوال : اسلام کوم قسم دین دي ؟ جواب : اسلام متوسط دین دي په مابینځ کي د سختی او آسانی.

۱۰ سوال : څو آسمانی دینونه دي او هم ووایه چي پرچا چا نازل سویدي ؟

جواب : څلور آسمانی کتابونه دي او په څلورو پیغمبرانو علیهم السلام نازل سویدي.

۱ تورات په حضرت موسی ( علیه سلام )

۲ انجیل په حضرت عیسی ( علیه سلام )

۳ زبور په حضرت داود ( علیه سلام )

۴ قرآنکریم په حضرت محمد ﷺ( صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ )

۱۱ سوال : موږ پر څو کتابونو باندي ایمان لرو ؟

جواب : موږ پر څلورو کتابونو باندي ایمان لرو لکه

( توارت ، انجیل ، زبور او فرقان یا قرآنکریم )

۱۲ سوال : زموږ کتاب کوم یو دي ؟ جواب : زموږ کتاب قرآن کریم دي.

۱۳ سوال : قرآن شریف په څومره وخت کي ، د چا له طرفه او د چا په واسطه په حضرت محمد ﷺ باندي نازل سو ؟

جواب : قرآن کریم د ۲۳ کالو په موده کي د الله ﷻ له طرفه او د حضرت جبریل ( علیه السلام ) په واسطه پر حضرت محمد ﷺ باندي نازل سویدي.

۱۴ سوال : قرآن کریم څو سپاري او څو سورتونه لري ؟

جواب : قرآن کریم ۳۰ سپاري او ۱۱۴ سورتونه لري.

۱۵ سوال : د قرآن کریم زده کول او هغه پر ځان عملي پر موږ څه شي دي ؟

جواب : د قرآن کریم زده کول او د هغه پر ځان عملي کول پر مونږ فرض دي.

۱۶ سوال : د الله ﷻ صفات څو قسم دي ؟

جواب : صفات د الله ﷻ دوه قسمه دي ، چي هغه ذاتی صفات او فعلی صفات دي . ذاتی صفات عبارت دي : سمع ، بصر ، کلام ، اراده ، قدرت ، حیات او علم چي دا ده الله ﷻ

گلزار

## دغه جملي مو پخپلو اولادو باندي زده کړي

ذاتي صفات دي او ثابت دي ، چي الله ﷻ د هغه په ضد نه موصوف کيږي ، مثلاً قدرت چې د هغه ضد کمزوري دي .

۲ فعلی صفات عبارت دي له : تخليق ، انشأ ، ترزيق ، احيأ ، ابداع ، اعزاز او اذلال ، چي د اصفات د الله ﷻ لپاره ثابت دي او د هغه په ضد موصوف کيږي .

لکه احيأ ( ژوندي کول ) چي دغه اماتت ( مړه کول دي ) دی.

۱۷ سوال : جنيات يا پيرانان د څه شي څخه پيدا سويدي ؟

جواب : د اوره څخه.

۱۸ سوال : روح د انسان په کوم ځاي کي قرار لري ؟

جواب د انسان په ټول وجود کي قرار لری.

۱۹ سوال : د ثموديانو قوم ولي د بيخه وکښل سو ؟

جواب : ځکه چې د الله ﷻ د اوامرو څخه يي سرغړونه وکړل.

۲۰سوال : فرعون ولي غرق سو ؟

جواب : ځکه چې ايمان يي په الله ﷻ نه راوړي.

۲۱ سوال : که چېری څوک په الله ﷻ ايمان ونلري هغه ته څه شي ويل کيږي ؟

جواب : هغه چي په الله ﷻ ايمان نلري هغه ته کافر ويل کيږي.

۲۲ سوال : که په پيغمبرانو ايمان ونلري هغه ته څه شي ويل کيږي ؟

جواب : هغه ته هم کافر ويل کيږي.

۲۳ سوال : آيا پر الله ﷻ ايمان نه درلودل نيک اعمال کومه ګټه لري ؟

جواب : بغير د ايمان څخه هيڅ عمل ګټه نلري.

۲۴ سوال : د الله ﷻ يو څو نومان بيان کړي ؟ جواب : رحمن ، رحيم ، رزاق ، خالق ، کريم ، ستار ، رقيب ، قيوم ، قادر. ...

۲۵ سوال : د پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يو څو نومان ذکر کړي ؟

جواب : محمد ، احمد ، محمود ، صادق ، بشير ، نذير ، مزمل ، مدثر. ...

ګلزار

## دغه جملې مو پخپلو اولادو باندې زده کړي

۲۶ سوال : ایمان مجمل بیان کړي ؟

جواب : آمنتُ بالله کماهو با سمائه و صفاته و قبلتُ جمیع احکأمه و ارکانه اقرار باللسان و تصدیق با قلب.

۲۷ سوال : ایمان مفصل بیان کړي ؟ جواب : آمنتُ بالله و ملائکته و کتبه ورسله والیوم الآخر والقدر خیره و شره من الله تعالی والبعث بعد الموت.

۲۸ سوال : مومن په څو شیان دي ؟ ۷ دي.

۱ ایمان په الله جلاله.

۲ ایمان په ملائکه وو.

۳ ایمان په آسماني کتابونو باندې.

۴ ایمان په پیغمبرانو.

۵ ایمان ده آخرت ورځې باندې.

۶ ایمان ده مرګ څخه وروسته په ژوندي کیدو باندې.

۷ ایمان په خیر و شر چې د خداې جلاله له طرفه دي.

۲۹ سوال : پیغمبر چاته ویل کیږي ؟ جواب : هغه کس چې د الله جلاله له طرفه د بشر د لارښوونو لپاره رالیږل سوي وي.

۳۰ سوال : د پیغمبران ( علیهم السلام ) اجمعین شمیر څو دي ؟

جواب : د پیغمبران ( علیهم سلام ) یو لکُ څلور ویشت زره زیات وکم .

۳۱ سوال : زمونږ پیغمبر څوک دي ؟ جواب : زمونږ بیغمبر حضرت محمد جلاله دي.

گلزار